http://www.arianafghanistan.com

نجیب منلی ۲۰۱۸/۱۲/۱۲

که زه کاندید وای

# د کډوالو بېرته راتلل

لمړی برخه

د کډوالو بېرته راتلل په افغانستان کې د سولې د تامین او د افغانستان د حیثیت د ساتلو له پاره یوه خورا مهمه خبره ده. د دې تر څنګ چې په ګاونډیو هیوادونو کې د ملیونونو کډوالو حضور د دغو هیوادونو په لاس کې د افغانستان پر ملت او دولت د فشار راوړلو یوه خورا اغیزمنه وسیله جوړوي، د افغانستان دښمنان او د دولت وسله وال مخالفین هم د کډوالو په منځ کې د سربازنیوني پراخه سرچینه لري. همدا راز د کډوالو کمپونه د وطن د دښمنانو له خوا د وسله والو ډلو د جوړولو، ساتلو، تنظیمولو او سوق کول ډېر په زړه پورې چاپیریال بلل کېدای شي.

د کډوالو د ستونزې یو بل مهم اړخ دا دی چې هماغه حکومتونه او دولتونه چې کډوال ورته د خپل سیاسي نظامي ځواک یو رکن ښکاري، د همدغو کډوالو په نامه له نړیوالې ټولنې په پراخه پیمانه امکانات ترلاسه کوي چې ډېر کم یې تر کډوالو رسېږي. دا خبره له هیچا پټه نه ده چې که په پاکستان کې په میلیونونو افغان کډوال نه وای او د پاکستان حکومت دا بشري ناورین په خپله ګټه نه وای کارولای ناشوني وه چې پاکستان د اتومي وسلې په ګډون، خپل نظامي ځواک دومره پیاوړی کړی وای.

که افغانستان رښتیا هم د سولې پر لور ګام اخیستل غواړي نو په کار ده چې هیواد ته د کډوالو راستنېدل د خپلو لومړیتوبونو په سر کې راولي.

د کډوالو د راتګ له پاره چې تر دې دمه کوم اقدامات شوي، په ښکاره دا څرګندوي چې د افغانستان حکومتونه له دې ستونزې سره د مناسب برخورد په اړه کوم معقول او د پلي کولو وړ سیاست نه لري.

هر وار چې د تېرو کلونو په اوږدو کې د کډوالو د راستنېدو له پاره اقدام شوی، ملګرو ملتونو هر چاته دومره پیسې ورکړې دي چې ایله پرې د کډې چلولو لګښتونه تامین شوي دي. ځینو کډوالو ته په هیواد دننه د ځمکو ورکولو طرحې هم وړاندې شوې دي خو دا طرحې د دې پر ځای چې د کډوالو د بېرته مېشتېدلو له پاره لار هواره کړي، د کډوالو کورنیو لاسونه یې د یو شمېر فاسدو، محلي زورواکانو تر پښو لاندې کړي دي. د ځمکو د توزیع هرې پروژې د فاسدې ادارې او محلي زورواکانو له پاره د لنګې غوا حیثیت درلودلی چې کډوال یې په څرولو ستړي شول.

د کډوالو د بېرته راستنېدو له پاره يو لړ بنسټيز تدابير په کار دي چې د ستونزې ټول اړخونه (انساني او ټولنيز موضوعات، روغتيا، تعليم، اقتصاد، فرهنګ، سيمه ييزه پراختيا، ملي يووالی او داسې نور...) يې دقيقاً په نظر کې نيول شوي وي.
د کډوالو د بېرته راستنېدو موضوع يو جامع، دقيق، عملي او له اقتصادي لحاظه د پايښت وړ پلان غواړي. دلته به يې په لنډ ډول ځينې ابعادو ته اشاره وکړو.
ننګونې

## ۱ – د کورنيو قومي، سيمه ييز، ژبني، فرهنګي او ټولنيز اړيکې

کله چې د جنګ په پيل کې د افغانستان وګړي دسته جمعي مهاجرت ته اړ شول د هر کلي او هرې سيمې وګړو د امکان تر حده هڅه وکړه چې خپل عنعنوي روابط او له يو بل سره د ټولنيزې ترلتيا کورنۍ جوړښت روغ وساتي. د يو کلي ځو کورنۍ به د مهاجرينو په کمپونو کې هم په يوه ګاونډ کې سره راټولېدې چې عنعنوي اړيکې سره و نه پاشل شي. په وروستيو وختونو کې چې د مهاجرينو د کمپونو عمومي جوړښتونه بشپړ شوي وو، که نوي کډوال به ورتلل نو په يوه متشکل، متجانس ټولنيز جوړښت کې به يې د ځان له پاره ځای پيدا کاوه. د مهاجرينو کمپونه له ټولنيز اړخه د کليوالي او ښاري مناسباتو ديوې منفردې ګډولې په شکل تنظيم شول چې نه کليوالي پاتې شول او نه پوره ښاري شول.
که څه هم د کلونو په اوږدو کې کمپونه په يو ډول نيمه ښاري جوړښتونو بدل شول خو د پيوستون عنعنوي اړيکې پر خپل حال پاتې شول. بل لوري ته د دويم او دريم نسل په را پورته کېدو، د نفوسو په زياتېدو او د کليوالي اړيکو په کمزوري کېدو ډېر خلک چې پخوا يې په کلي کې ايله ګوزاره کېدله، څلوېښت کاله وروسته يې وروستي نسلونه له خپل اصلي ټاټوبي سره ډېر کم اقتصادي او عاطفي ارتباط ساتلای شي.
په ګاونډيو هېوادونو کې له ژوند کولو سره افغان کډوال که څه هم په «خو ژبې» فرهنګي چاپېريال کې پاتې شول مګر د افغانستان د ملي او رسمي ژبو سره اشنايي يې تر ډېره محدوده شوه. په بل عبارت که له جنګه مخکې ښارمېشتو افغانانو کولای شول چې تر يو حده په پښتو او دري دواړو افهام او تفهيم وکړي اوس دا حالت د پخوا په څېر طبيعي نه دی پاتې.
په دې شرايطو کې که کډوال بېرته په کټلوي بڼه راستنېږي نو په کار ده چې نوي ايجاد شوي اړيکې او مناسبات تر يو مناسب حده باقي پاتې شي يانې بېرته راستنېدونکي کډوال بايد داسې و نه پاشل شي چې بيا يو نسل وګړي له فرهنګي او ټولنيزو سالمو اړيکو بې برخې شي.

## ۲ – اقتصادي واقعيتونه

څلوېښت کاله پخوا افغاني ټولنه تر ډېره کليوالي ټولنه وه چې د معيشت عمده برخه يې پر کرنه ولاړه وه. د جنګ په اوږدو کې يوه برخه پخوانی ابادي ځمکې شاړې شوې خو د شاړو ځمکو د ابادېدلو بهير ټکنی شو.
د کورنيو د غړو ډېرېدل او د استوګنځي د ستونزو پراخېدل د دې باعث شو چې په ډېرو سيمو کې کرنيزې ځمکې د کورونو د ابادولو له پاره وکارول شي.

د دې تحولاتو یو مستقیم اثر دا شو چې ډېرى هغه وګړي چې تر جنګ د مخه یې په کلي کې ګوزاره ممکنه وه، اوس نه شي کولاى چې په خپلو پلرنیو ټاټوبیو کې د خپل ژوند د دوام په اړه فکر وکړي او مجبور دي چې په ښاري مرکزونو کې مېشت شي.

د ښېرته راستنېدونکو له پاره د مېشتېدنې د یو معقول سیاست نه شتون د دې لامل شو چې شته ښارونه په انارشیکه توګه پراخه شي او ښاري پراختیا د یو منسجم ښاري سیاست پر ځاى د یو ډول سرطاني ودې قرباني شي. پخواني ښارونه له حده ډېر ستر شول، د اوبو طبیعي زېرمې او د ځمکو نوعیت د چاپېریال له شدید تخریب سره مخ شول.

صنعتي فعالیتونه چې د ښاري ژوند یوه بنسټیزه مشخصه ده رامنځ ته نه شول او د افغانستان ښارونه په یو مصنوعي خدماتي اقتصادي چاپېریال کې یوازې د نفوسو د تراکم ساحې پاتې شوې او د ښاري فرهنګ د ودې له پاره یې لازم زېربنایي او روبنایي شرایط برابر نه شول.

که د مېشتېدنې له یوه جامع او معقول سیاست پرته په ملیونونو کډوال راستانه شي نو هم به کلیوالي ژوند له ګنو ستونزو سره مخ شي او هم به ښاري چاپېریال د لا سرطاني کېدو تر ګواښ لاندې شي.

## ۳ – د اراضیو مدیریت

د ځمکو مدیریت د افغانستان د حکومتولى هغه برخه ده چې لا تراوسه پرې د پام وړ کار نه دی شوى. په عنعنوي توګه په افغانستان کې د ځمکو ستونزې ته یوازې د ملکیت او مالیي له زاویو کتل شوي دي. د ځمکو د ستونزې په اړه چې په تېرو لسیزو کې کومې اداري را منځ ته شوې د همدې سیاسي لیدلوري پر بنسټ دي. حتی د ۱۳۹۷ کال وروستي پرېکړه چې د ځمکو خپلواکه اداره یې د ښارجوړولو له وزارت سره یوځاى کړه دا خبره لا ډېره جوتوي چې حکومت د ملي قلمرو د ځمکو د مدیریت له پاره کومه جامعه طرح نه لري.

د کډوالو ښېرته راستنېدل کېداى شي چې پر موجودو سیاستونو د نظر د نوي کولو په ترڅ کې د هېواد د فزیکي قلمرو هر اړخیز مدیریت ته هم لاره هواره کړي.

د کډوالو د ژوند ښاري یا نیمه ښاري کیفیت دا ناشوني کړې ده چې کډوال دې ښېرته خپلو اصلي ټاټوبیو ته ورشي. نه هلته د تولنیز پیوستون لازم عناصر پاتې دي (کورنۍ وېشل شوې او خورې ورې شوې دي) او نه د ژوند د اقتصادي اړتیاوو د پوره کېدلو امکانات په کې شته.

بلخوا، موجودو ښارونو او موجودو ښارونو ته په څېرمه سیمو کې د کډوالو مېشتېدل نه یوازې دا چې هغوى ته د ژوند د اقلو امکاناتو چمتوکول ستونزمنوي، تر څنګ یې د ښارونو پر ټولنیز جوړښت هم منفي اغیز ښندي او د ښارونو اقتصادي، ټولنیز، فرهنګي، امنیتي او اخلاقي چاپېریال له شدید ګواښ سره مخ کولاى شي.

د کډوالو سوسیولوژي

د افغانستان د کډوالو ستونزې د څلورو لسیزو په اوږدو کې شکل نیولى دى نو واضحه ده چې ټول کډوال د کډوالۍ د عواملو او د کډوالۍ د شرایطو له مخې یو شان نه دي. تر هر څه د مخه لازمه ده چې د کډوالو د بېلابېلو کتلو مشخصات په دقیق ډول وپېژندل شي. په یو آفاقي، لومړني، سرسري تحلیل کې افغان کډوال پر دریو کټګوریو وېشل کېداى شي:

## - په پاکستان او ایران کې مېشت راجستر شوي کډوال

شاوخوا دوه نیم، تر دریو ملیونو کډوال په پاکستان او ایران کې راجستر شوي دي چې اکثره یې له ډېرو کلونو راهیسې د کډوالۍ ژوند کوي.

دا کډوال په ګڼو شمېرو کې هغه وګړي دي چې د جنګي شرایطو تر اغیز لاندې یې خپل اصلي ټاټوبي پرې ایښي او له کلونو راهیسي په دوو ګاونډیو هېوادونو کې پاتې شوي دي. ډېری دا کډوال په خپلو اصلي مېشت ځایونو کې د بیا مېشتېدلو له پاره کافي امکانات نه لري، اقتصادي بنیه یې ضعیفه ده خو د مهاجرت په هېوادونو کې یې ځان ته د یو بې ثباته ژوند دشرایط برابر کړي دي.

دا هغه مهمه کتله ده چې راستنېدل به یې یو لومړیتوب وي.

- په پاکستان او ایران کې ناراجستر شوي کډوال

دا اکثراً هغه وګړي دي چې د وروستیو کلونو د جنګ او نا امنیو له کبله کډوال شوي دي. په دوی کې یو غوځ اکثریت اقتصادي کډوال دي چې د مهاجرت په هېوادونو کې په سختو نا مطمینو شرایطو کې ژوند کوي.

د دې کډوالو بېرته راستنېدل هم اړین دي خو په غالب ګومان به دا وګړي په داوطلبانه شکل هېواد ته راستنېدلو ته په اسانه زړه ښه نه کړي.

- په نورو هېوادونو کې افغان مهاجرین

هغه افغانان چې بریالي شوي دي چې په غربي هېوادونو او د خلیج په هېوادونو کې ځای پر ځای شي، که هغه د جنګونو له امله بې ځایه شوي کورنۍ دي او که د اقتصادي عواملو پر بنسټ یې د کډوالۍ لاره نیولې ده، غالباً دې ته نه حاضرېږي چې په داوطلبانه ډول بېرته راستانه شي.

کله چې د کډوالو د بېرته راستنېدلو پر مسئله غور کوو نو لومړیتوب باید د لومړۍ کټګورۍ کډوالو ته ورکړل شي. دریمه کټګوري مهاجرین په هېڅ ډول د جمعي بیا راستنېدلو له پاره لېوالتیا نه لري او دویمه کټګوري که د فرصت طلبه درېځ له مخې د مرستو د ترلاسه کولو په موخه بېرته راستنېدو ته حاضر هم شي په لنډه موده کې به د بیا مهاجرت هڅه وکړي. د دویمې کټګورۍ کډوال غوڅ اکثریت په هېواد کې دننه کورنۍ اړیکې او مېشت ځایونه لري، نو د کډوالو د بیا راستنېدو عمومي طرح باید دا حالات هم د امکان تر حده په نظر کې وساتي.

د افغانستان حکومت ته په کار ده چې هم د خپل ملت د ګټو د خوندي کولو په پار، هم د خپل امنیت وضعیت د ښه کېدو له پاره او هم د ګاونډیو هېوادونو د مداخلې د مخنیوي په خاطر او هم د نړیوالو تعهداتو د عملي کولو په منظور د لومړۍ کټګوري کډوالو د بېرته راستنېدلو له پاره لازم تدابیر ونیسي.

د افغانستان امنیتي او سیاسي شرایط دا ایجابوي چې د مهاجرینو د بېرته راستنېدلو موضوع په راتلونکو دریو کالو کې په اساسي ډول حل شي. تر اوسه د افغانستان حکومت د کډوالو په داوطلبانه راستنېدلو ټینګار کوي او تر یوه حده نړیواله ټولنه هم له همدې نظریې سره همغږې ده. د دې نظریې منفي اړخ دا دی چې په داوطلبانه توګه د کډوالو بېرته راستنېدل په عادي شرایطو کې د مدیریت وړ خبره نه ده.

دافغانستان د ملي منافعو تقاضا دا ده چې د راجستر شوو کډوالو د بېرته راستنېدو له پاره مشخص، سنجول شوی، زمان بندی شوی پلان جوړ شي. د دې پلان له مخې باید د دریو کالو په اوږدو کې هر کال د یوملیون تنو د بیا مېشتولو له پاره امکانات ترلاسه شي.

د تېرو کلونو د مهاجرینو د بیا مېشتولو ناکامې تجربې باید نورې تکرار نه شي. د مهاجرینو د راستنېدلو له پاره په کار ده چې حکومت یوه جامعه طرح ولري او ټول درې ملیونه وګړي د یو منظم، زمان بندي شوي پلان پر بنسټ بېرته راستانه کړي او په هېواد دننه یې مېشت کړي.

د ببرته راستنېدو له پاره په نخښه شوي کډوال په دوو ډلو وېشل کېدای شي:

د ټولو کډوالو شاوخوا شل سلنه به داسي وګړي وي چي د خپلي اصلي استوګني په ځای کي به هم د ټولنيز پيوستون لازم اړيکي لري او هم به د مېشتېدلو غوښتنه او يو څه امکانات لري. دا کډول چي و پېژندل شي، نو بايد ورته د مرستي يو مشخص پکېج ورکړل شي او په خپله خوښه د بيا مېشتېدني اختيار ورکړل شي.

شاوخوا اتيا سلنه کډوال به داسي خلک وي چي د جنګ په اوږدو کلونو کي يې په خپل اصلي ټاټوبي کي د بيا مېشتېدلو له پاره انګېزه او امکانات له لاسه ورکړي وي. دوی ته بايد د بيا مېشتېدني له پاره هم د استوګنځي غم وخوړل شي او هم د اقتصادي فعاليت. که دا وګړي پر خپل حال پرېښودل شي نو ډېر ژر به ببرته د کوردننه بې ځايه شويو لښکر سره يو ځای شي. دا وګړي، چي شمېر به يې غالباً د يونيم مليون تنو شاوخوا وي، د بيا مېشتېدني ملي پروګرام کي د شاملېدو وړتيا لري.

دلمړی برخې پای

نور بيا

تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با اجرای "کلیک" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!

د کډوالو ببرته راتلل (لمړی برخه)

manalay_najib_de_gadwaalo_berta_raatell_۱.pdf